دوکتور محمد نوزادي ۲۰۱۶/۰۴/۲۵

د ویښتانو رژیدل، لاملونه او درملنه

په دې وروستیو وختونو کې ډیری ماته ته د تداوي د پاره راځي چې ویښتان یې رژیدلي وي او یا یې اوس تازه په رژیدلو شروع کړی وي.
زه خپله د پوستکي او جنسي ناروغیو ترینر متخصص یم، چې هره ورځ دا ډول ناروغان ګورم، د پاک خدای په مرسته او د خپلو تجربو په مټ یې درملنه کوم. په دغو کسانو کې ډیره سلنه لوستي خلک دی او کله نا کله زما د زده کړو او کارونو په باره کې پوښتني را څخه کوي او ځیني لا غواړي د نوم وړي ستونزي په اړوند لیکلي مواد او مالوماتونه تر لاسه کړي. د دغسي غوښتنو له مخي غواړم د لاندي لنډی لیکني له لاري د دوی سره مرسته وکړم.
خدای دي وکړي په اړین وخت کې یې په درد وخوري:
ما خپلې لوړې زده کړې د روسیې په مسکو ښار کې د «اولسونو د دوستۍ پوهنتون، People’s Friendship University» کې پایته رسولې دي. د فارغیدلو څخه وروسته مې څو کاله د کابل په مرکزي کتنځی کې کار وکړ او د تخصص د تر لاسه کولو په موخه بیا نوم وړي هیواد ته و لیږل سوم. تر تخصص اخیستلو وروسته مې 16 کاله د مسکو په مختلفو روغتونونو کې کار کړي دی، تر څو چې په 2000 کال کې ډنمارک ته ولاړم او هلته مې هم په څلورو مختلفو روغتونونو کې کار او مشاهدات تر سره کړي دي. په 2005 کال کې وطنوالو ته د چوپړ په موخه بیرته افغانستان ته را ستون او د کندهار د جنوبي زون په مرکزي روغتون (میرویس روغتون) کې مې کار پیل کړ او څو کاله د پوستکي او جنسي ناروغیو د څانګې شیف یا د سرویس مشر پاته سوم.
تر تقاعد څخه وروسته، اوس په خپل کتنځی کې کار کوم. دا چې ما د طب په ډګر کې خپل تر نیمایي زیات عمر تیر کړی او مختلفو هیوادونو کې د ډول ډول ناروغانو سره مخامخ سوی یم، طبعي خبره ده چې بډایې تجربې مې لاس ته راوړې دي. د پوستکي او جنسي ناروغیو له ډلې څخه د ویښتانو رژیدل نه یوازې په افغانستان کې، بلکې په بهرني پر مختللو هیوادونو کې هم زیات شمیر خلک ورڅخه سر ټکوي.
دا چې د سر ویښتان د نارینه وو او ښځینه وو په ښکلا کې خاص رول لري، ځکه یې نو د زیاتو خلګو پام ځانته اړولې او کوښښ کوي چې ژر تر ژره یې تداوي وکړي.
اوس غواړم چې ستاسو سره هغه تجربه شریکه کړم چې ما د یوه کال په جریان کې (2015-2016) په 883 ناروغانو باندي، چې د ویښتانو د رژیدلو څخه یې شکایت درلود، تر سره کړیده. دا په حقیقت کې د یوې څیړنې پایله ده چې وړاندي کوم یې. په دغو 883 ناروغانو کې د بیلابیلو عمرونو کسان نارینه، ښځې او آن کوچنیان ټول شامل وو.

له دې ډلې څخه:

لومړی :

د 91 کوچنیانو د سر ویښتان د ساري فنګسي ناروغیو له امله رژیدل. نوم وړې ناروغۍ د کورني حیواناتو څخه اخستل کیږي او عبارت دي له:

الف، Trichophyton

ب، Microsporum

ج، Fangus

دویم:

353 ښځینه ناروغانو Stress او Depression درلود

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دریم:

د 5 ښځینه ناروغانو بیا د Syphilis ناروغی له امله د سر ویښتان رژیدل.
نوم وړي ناروغی د جنسي نژدیوالي د لاري یو بل ته انتقالیږي او په خاصو اعراضو اوعلایمو او همدارنګه د VDRLمعایناتو په مټ یې تشخیص کیږي.
دا ناروغی په بهرني پرمختللو هیوادونو کي په پراخه کچه لیدل کیږي.

څلورم:

شپږ نږي(96) ښځینه ناروغانو بیا دغه لاندي فکتورونه درلودل:
۱ ــ د وینی کموالی (anemia) چي د هر سبب له امله وي.
۲ ــ د وټامینونو کموالی په تیره بیا د B ګروپ ویټامینونه.
۳ ــ د بیلابیلو مینرالونو کموالی.
۴ ــ د ځینو خاصو درملو استعمال.
۵ ــ د ویښتانو توني کول او یا رنګول په کیمیاوی رنګونو سره.
۶ ــ د بي کیفیته او تیز کیمیاوي شامپوګانو، جیل او تیلو کارول.
۷ ــ د ویښتانو غوړول په تیلو باندي.
۸ ــ او یا د ځینو ناروغیو تیرول لکه محرقه.

پنځم:

یو سل او پنځه نوي(195) نارینه ناروغانو یې Stress او Depression درلود.

شپږم:

اوه (7) نارینه ناروغان یې د Syphilis په ناروغی اخته و.

اووم:

یو سل او اته دیرش(138) ناروغانو یې مختلف لاملونه درلودل، لکه د وینې کموال(anemia) ، د ویټامینونو او منرالونو کموالی، بي کیفیته او تیزو شامپوګانو استعمال او همدارنګه د ځینو ساري ناروغیو تیرول لکه محرقه.
څرنګه چي زموږ په هیواد کي کورني تاوتریخوالی، اقتصادي او امنیتي ستونزي، جګړې، غریبي او داسي نور دیر زیات لیدل کیږي، نو ځکه stress او depression د نوم وړي ناروغی په لاملونو کي یوه ډیره برخه جوړوي، چي تر نیمایي لا هم زیات دي.
دا خبره هغه وخت ماته په تجربي سره په اثبات ورسیده کله چي په کابل کي د 1987-1989کلونو تر منځ، پر هوایي ډګر باندي له شکر دري څخه راکټان او هاوانونه ورغورځول کیده، نو هغه خلک چي کورونه یي و نوم وړي میدان ته نژدې وو، هغوي به ټول په بیره کي وو، stress او depression یې درلوده چي له امله به یې د سر ویښتان رژیدل او موږ ته به د کابل مرکزي پولي کلینیک ته د علاج د پاره راتلل.
همدارنګه هغه طالبان چي په ګوانتینامو کي بندیان وو، نو د هغوي سره به هلته ډیر ظلم کیده او د سخت stress لاندي به وو. وروسته کله چي هغوي را خلاص سول، نو هم ماته به د alopecia (د ویښتیانو رژیدل) د تداوي د پاره راتله.
همدارنګه یوه بله تجربه هم دا ده چي زیاته مطالعه کول هم د سر ویښتان رژوي، کله چي ما په ځوانی کي د طب پوهنځی شروع کړي وه، نو تر خوب او استراحت مي مطالعه ډیره وه، نو ځکه د زیاتي مطالعي له امله مي زیات د سر ویښتان ورژیدل.
یو وخت یوې ښځي پوښتنه راڅخه وکړه چي د لیونیانو د سر ویښتان ولي نه رژیږی؟ څرنګه چي موږ او تاسو ټول پوهیږو چي لیونی نه په غم پوهیږي، نه په ښادي او نه هم فکرونه او سوچونه وهي، نو ځکه یې ویښتان پر خپل حال پاته وي. د لوړو یادوونو څخه مالومیږي چي دغه فکتورونه د سر د ویښتانو په رژیدو کي لوي رول لري. یوه بله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مهمه خبره ده چي بايد په ياد يي ولرو هغه دا چي د ځينو خلګو د سر د ويښتانو رژيدل هغوي ته په ميراث ور پاته وي يعني که چيري پلار او نيکه يې د سر ويښتان ونه لري نو امکان يې سته چي ده ته دغه نقص په جنيټيکي ډول سره په ميراث ورپاته سي او په همدا ډول د ده و اولادونو ته هم پسې ور نقل سي چي دغه حالت يې بيا تداوي نه لري.
اوس راځئ چي په علمي اصطلاح کي د ويښتانو رژيدل (Alopecia) وڅيړو او د هغه په ميخانيکيت ځانونه پوه کړو.

د لومړی برخي پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ